# د ادبیاتو فلسفه

پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون

د ادبیاتو فلسفه

پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون

۱۳۹۹هـ ش

# PHILOSOPHY OF LITERATURE

Professor Dr. Lal Pacha Azmoon

ISBN 978-9936-645-78-3

2020

**د افغانستان اسلامي جمهوري دولت**

**د علومو اکاډمي**

**د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست**

# د ادبیاتو فلسفه

پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون

۱۳۹۹هـ.ش

# کتاب پېژندنه

**د کتاب نوم:** د ادبیاتو فلسفه

**لیکوال:** پوهاند دکتور لعل پاچا ازمون

**مهتمم:** په خپله لیکوال

**کمپوز:** لیکوال، سیداصغر هاشمي او نوراجان بهیر

**خپرندوی:** د افغانستان د علومو اکاډمي، د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

**د چاپ ځای:** الهام نبي زاده، کابل – افغانستان

**د چاپ کال:** ۱۳۹۹هـ. ش /۲۰۲۰م

**د چاپ شمېره:** ۵۰۰ ټوکه

**د لیکوال برېښنالیك:** lalpachazmoon@gmail.com

**گرځند:** ۰۰۹۳ – ۷۰۰۶۰۰۵۶۴

ISBN: ۹۷۸-۹۹۳٦-٦٤٥-۷۸-۳

د چاپ ټول حقوق د افغانستان له علومو اکاډمي سره خوندي دي

بسم الله الرحمن الرحيم

## ډالۍ:

د کابل پوهنتون ژبو او ادبیاتو پوهنځي د دکتورا دویمې دورې سکالرانو او درنو استادانو ته چې له برکته يې دا کرښې ولیکل شوې:

محمد زرین انځور

پوهاند محمد ابراهیم همکار

پوهاند جمشید رشیدي

پوهندوی یارمحمد پکتین

څېړنوال سید نظیم سیدي

پوهنمل رحیم الله ځیرک

پوهنمل سید اصغر هاشمي

پوهنیار نورالله ښاد

پوهنیار حمیدالله عمرخېل

پوهنیاره نازیه رسولي پتمن

# نیولیک

**سرلیك** **مخگڼه**


د سر خبرې ........................................ أ

سريزه ........................................ ۱

**لومړۍ برخه**

۱ ـ ادب ـ فلسفه ........................................ ۹

**دويمه برخه**

۲ـ د ادبیاتو ډولونه ........................................ ۳۳

**دریمه برخه**

۳ـ د ادب پیدا یا منشا ........................................ ۷۱

**څلورمه برخه**

۴ـ کولتور او ادبیات ........................................ ۷۷

**پنځمه برخه**

۵ـ له نورو پوهـنو، هنرونو او فنونو سره د ادب اړیکې ........................................ ۸۷

**شپږمه برخه**

٦ـ اوبه او ادبیات ........................................ ۱۹۳

**اوومه برخه**

۷ ـ ستېرکچرېزم او ادبیات ........................................ ۲۰۳

**اتمه برخه**

۸ ـ هیله‌مندي او نهیلي ........................................ ۲۰۹

**نهمه برخه**

۹ـ امن او ادبیات ........................................ ۲۲۱

**لسمه برخه**

۱۰ـ ژبه او ادبیات ........................................ ۲۴۷

**یوولسمه برخه**

۱۱ ـ تاریخ او ادبیات ........................................ ۲۷۱

**دوولسمه برخه**

۱۲ ـ سیاست او ادبیات ........................................ ۳۱۵

**دیارلسمه برخه**

۱۳ـ اروا پوهـنه او ادبیات ........................................ ۳۳۵

**څوارلسمه برخه**

۱۴ـ د ادبي تحول نظریې ........................................ ۳۷۳

**پنځلسمه برخه**

۱۵ـ ټولنه او ادب ........................................ ۴۰۷

**شپاړسمه برخه**

۱۶ ـ د ریالېزم ادبي مکتب ........................................ ۴۶۷

**اوولسمه برخه**

۱۷ـ په ادبیاتو کې فېمنېستي نظریه ........................................ ۴۷۹

**اتلسمه برخه**

۱۸ ـ د ادبي اثارو عمر او ژوند ........................................ ۴۹۵

**نولسمه برخه**

۱۹ ـ اخلاق او ادبیات ........................................ ۵۰۳

# د سر خبرې

کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د دکتورا برخې غړیو د (ادب فلسفه) تر نامه لاندې یو مضمون د تدریس په لړ کې ور زیات کړ.

دغه مضمون یې ما ته وسپاره. له مضمون سره مې خدای شته له زړه مینه وه، خو را ته ستونزمن و. ستونزه په دې کې وه چې کار او خبرې یې غوښتې. دا مهال زه په نورو خولو کې ډوب وم، حیران وم چې څه وکړم؟ د ادبیاتو پوهنځي رییس پوهنمل دکتور محمد اسلم نسیمي ته مې خپله ستونزه وویلې، خو هغه پر دې ټینګار وکړ چې په هر ډول کېږي، دغه مضمون باید زه تدریس کړم. د مضمون سویه لوړه وه، خو د نسیمي ټینګار دې ته اړ کړم چې هغه او دغه سره را ټولې کړم، نسیمي را ته ویل: همدغه هغه او دغه چې سره را ټولې کړې او بار بار پرې خبرې کوې، همدغه فلسفه ده. فلسفي بحثونه پای نه لري.

بس توکل په خدای. لومړی مې د اداري په غوښتنه د دغه مضمون لپاره یو لړلیک برابر کړ، په لړلیک کې شپاړس سرلیکونه ځای شول، پر هر سرلیک به په اونۍ کې خبرې کېدې، کورس هم شپاړس اونۍ و. د مضمون موخه مې هم ور ته ولیکله، خو خدای شته زړه مې پرې چندان اوبه نه څښلې، بس کار و ، را سپارل شوی و.

له ښه مرغه د دکتورا د سکالرانو سویه تر ما لوړه وه، زه له دوی سره په لیکه کې کېناستم. ما ایله همدمره کول چې نوی سرلیک پر تخته ولیکم، د دوی عالي نظرونه وا ورم. د دوی له نظرونو سره به مې خپل نظر شریک کړ. په ټولګي کې پرې ښه بحثونه کېدل، خو ستونزه دا وه چې بحثونه ټول خواره واره وو، را ټولېدل یې ګران وو.

د سکالرانو غوښتنه او هیله هم دا وه چې په دې برخه کې باید یو څه ولیکم. لیک را ته ګران و، په خبرو کې خو سړی ځان تېرولی شي، یو غر پر بل غر وله، سند بې له دې هم نشته. د لیک مسوولیت تر خبرو درون دی. په لیک کې د خبرو را ټولول هم ګران دي. یو خو دا چې دا پخپله فلسفه وه، د فلسفي خبرو را ټولول هم اسانه خبره نه ده. ځکه دومره وېدل او اورول شوي چې سر پیدا کول یې ستونزمن دي، پایله خو یې لا پر ځای پرېده.

ښه نو چې له یوه کار دې خلاصی نه وي، هغه ته به ضرور د سر ته رسولو غاړه ور کوې. زما هم خلاصی نه و. هغه بحثونه چې د سمستر په اوږدو کې شوي وو، هغه مې په یوه وړه کتابچه کې لیکلي وو،

یو څه فکر را سره و، پر دې هم لږ مغرور او ډاډمن وم چې څه، د بحث لپاره خو دې ور پرانستی دی، خدای مهربانه دی، یو څه به ترې جوړ شي. ګران ورور سید اصغر هاشمي دې ودان او ښاد اوسي، د مرستې ټېټر يې وواهه، ویل يې زه درته ماخذونه برابروم، له ماسره ډېر کتابونه او مواد شته، دا به در ته برابر کړم. بل يې د کمپوز چارې هم په غاړه واخستې، زما زړه و چې زه دغه یادښتونه وغږوم، خپله ذهني تجربه پرې ترسره کړم چې هر سرلیک برابرېده، هغه به زه وایم او هاشمي صاحب نېغ په کمپيوټر کې لیکي، مزل به لنډ شي.

هاشمي صاحب سره مې دا خبره شریکه کړه، هغه يې لیک ته غاړه کېښوده، سرلیکونه مې ور ته په برېښلیک و لېږل. بل ورځ ګورم چې هاشمي پاچا سرلیکونه دومره غځولي او څانګيز کړي وو چې له ما يې وار پار خطا کړ، له ځان سره مې وویل: هاشمي صاحب خو لکه چې پر ازموینه خپل غچ در نه اخلي. ستا پوهې ته نه ګوري او داسې مسایل مطرح کوي چې هغه کلونه کلونه خواري غواړي. هاشمي صاحب ځيرک او هڅاند انسان دی، له ماغوندې بوډا يې هم د ځان په څېر ګړندي قدمونه او مزل غوښت. دی پر دې پوه نه و چې اوس زما ذهن وروست او پخ شوی دی، د ځوانۍ له شور او ډوله غورځېدلی یم، بس هاشمي صاحب زورور دی، این کی که پین کی دا پټی به شین کی.

په دې برخه کې داسې کوم ځانګړی اثار نه ولیکل شوي ، ادب تیوري لیکل شوې وه، خو زما د مطالعې او فکر له مخې ادب تیورۍ او فلسفې توپیر لاره، نو لومړی مې د ادب په باب چې څومره کتابونه مخې ته را غله هغه مې له سترګیو تېرکړل، د اروا پوهنې او ټولیزې فلسفې په برخه کې چې څومره ماخذونه لاس ته را غله پر دې مې چینجن ذهن نور هم و چنګاوه، خو خبره بل ځای کې وه، هغه د پښتو ادب سپړنه وه، نو پښتو له ګړني ادبه تر لیکني ادبه مطالعه غوښته، لیکنی ادب خو شته، ګړنی ادب ډېر لږ را ټول شوی دی، په دې دواړو برخو کې اثار لږ دي، بل ښه والی يې دا دی چې ما ته د ګوتو په شمار اثار لاسته را غله. یو څه مې مطالعه کړل، له هغو تیوریکي بحثونو نه راته د دغو ایجادي اثارو مطالعې ډېر څه را کړل، دا برخه لا هم ډېره مطالعه غواړي، دې پایلې ته ورسېدم چې زموږ ادب لا هم بې مطالعې او شننې پروت دی، ځکه خو په دې برخه کې تیوري او بحثونه هم د خپلو ایجادي ادبیاتو په روح نه دي برابر شوي، د نورو د ادبیاتو تیورۍ را انتقال شوي او پر همغې تله پښتو ادبیات تلل شوي دي.

خیر خبره مې له الف الف زرا نه را پیل کړه، څه چې را سره ذهن کې وو، برداشتونه او مطالعه مې وه، هغې مې لیکه کړل. یو څه يې لیکلو ته برابر شوم، هاشمي صاحب سره مې د لیکلو خبره غوټه کړه، خو تقدیر ګوره څه چارې را وکړې. د وبا څپه را خوره شوه، هر سړی يې په کور او ګوټ ناستی کړ، په لومړیو کې مې ایله وبا ته فکر کاوه، اندېښنې وې او یو ډول رواني اضطراب. اخر مې له ځانه سره وویل چې له

چرتونو څه نه جوړېږي، را څه همدا کورناسته او ګوټ ناسته د کار لپاره یو ښه فرصت وګڼه. خبرونه مې پرېښودل، ځکه ټول ویر و، له لاسه مې څه کېدل نه او اندېښنه را باندې سرباری وه، نو د نورو لیکنو تر څنګ مې په حقه روژه کې د دې کتاب لیکلو ته لستوڼي را بډ وهل. په لومړیو کې دغه بحثونه ګران وو، هغه پر دې چې په خبرو کې خبرې پیدا کېدې، همداسې فلسفې مې غړولې، خو وروسته وروسته را ته بحثونه په زړه پوري شول. بلې دنیا ته یې بوتلم، د رنګ او خوند دنیا ته، یوې بې ازاره دنیا ته، داسې دنیا ته چې د بشر عاطفي څېره و، احساس و، د دوی ذهنیت و، بېلابېل انځورونه وو. بس د خبرو پر سمندر ور ګډ شوم. هغه خلک یې را نه هېر کړل چې کړتو یې را ته په غوږونو کې ځالې جوړې کړې وې، هغه کړتې وې، بې خونده وې، خو دا خبرې دي، دا خبرې مرغلرې دي، نو د مرغلرو پر سین ور ګډ شوم.

نه په خوراک وم، نه په څښاک، خوب مې له سترګو والوت، یوې داسې دنیا کې مې لمبل چې د ذهن سترړیا یې را ته مینځله او په نرمه ښکالو یې را ته د زړه تارونه ترنګول. له دې سینه مې د وتلو زړه نه و، خو بس ژوند دی، بل غږ را باندې وشو چې اختر دی. اختر هم پر کاله. بیا مې هم دا مرغلرې څېړلې، له زړه را ته غړېدې، اوس دا دی ستاسې په مخکې دغه لړ شیندم، تاسې هم پرې د ذهن سترګې و نځوئ، ستا د ذهن د سترګو اوبه به دا مرغلرې نورې هم رڼې کړي.

را ځئ! په دې لړ کې خپلې مرغلرې هم وپېیئ، دا لړ نری دی، ستاسې په نظر غښتلی کېږي. له خپلو مرغلرو مې مه بې برخې کوئ، په هرځای کې را ته خپل یادښتونه پرېږدئ. زما خو اوس همدمره وس و، خو لا هم دا دنیا مطالعه کوم. زه اوس د دغې رنګینۍ دنیا د رنګونو په سمندر ور ګډ یم. ایله مې ژوند بیا موند. د بشریت، انسانیت، عاطفې او رنګینۍ ژوند.

ژوند ژوند ژوند

که یاري یې را سره وکړه، نو د رنګونو له دې سمندره به نورې مرغلرې هم له تاسې سره شریکې کړم.

د اوس لپاره همدومره

ازمون

جلال اباد ـ د وري شلمه ـ ۱۳۹۹

# سریزه

ادب ژوند دی، ژوند ښکلا ده، مینه ده، عاطفه ده او د بشر ساه ده. ادب د کایناتو د تنظیم او خپل منځي اړیکو برابرېدل دي.

بشري ټولنه د کایناتو نظم دی، د هر څیز ښکلا او ارزښت دی. همدغه ښکلا، ارزښت، نظم او تهذیب په ټوله کې ادب دی؛ نو ادب راته ژوند او د ژوند لارې ښيي. ټولنه سمبالوي او له کړکېچه يې ژغوري. خبرې د ادب هغه وسیله ده چې بشري ټولنه راټولوي، د ژوند روح راښيي او د بشر ذهنیت څرګندوي.

ادب د ټولنې د رغښت، سمون او پرمختګ نوم دی، د یوې مهذبې ټولنې د رامنځته کولو لار او غړ دی. د ژوند مخ په بېلابېلو رنګونو کې راښيي. د کایناتو هر څیز روڼ ځلوي او اړیکه يې یو له بله سره پالي.

تر ټولو اړینه دا ده چې موږ د ژوند پر مانا پوه شو، ژوند یوازې کالبوت نه دی، په کالبوت کې د روح نڅا ده. دغه نڅا چې ژوند ته ساه او رنګیني ورکوي، ادب دی.

ادب د بشر په رګ، رګ کې یوه رنګینه مسته نشه، جذبه او هغه ښکالو ده چې دنیا په شور او حرکت راولي. بختورې ټولنې هغه دي چې لوړ ادبیات ولري، لوړ ادبیات له ژور فکر او لوړ تخیله رامنځته کېږي.

د بشر د لومړني ژوند کړنې یو واقعیت و، دغه ژوند د ژوند په راز او حقیقت موندلو پسې سترې ستومانه او لالهانده سفر پیل کړ، دا سفر لا روان دی، دا سفر تر هغې چې کاینات وي؛ نو په رګ، رګ کې به يې روان وي.

هغه لومړنی ژوند همداسې ورپسې ژوند تر دا پرونه ژوند ورو، ورو سبا ته پر افسانه بدلېږي. دا ژوند او دا سفر واقعیت دی؛ خو د خپل مهال، د اوسمهال لپاره اسطوره ده، خیالي کیسې دي. د ژوند دغه رنګین سفر ورو، ورو پر اسطورو او خیالي کیسو بدلېږي. بشر مخکې ځي، په زړو رنګونو کې نوي رنګونه پیوندوي او نوې خبرې لري. دغه خبرې مخکې ځي؛ خو کله چې خپل تېر د سفر وهلې لار پسې مخ رااړوي؛ نو ځان په تېرو تجربو

کې د تخیل په وزرونو ورګډوي او د مخکې سفر څراغونه ترې بلوي.
دغه د ذهني تجربو تخیلي دنیا او د ژوند د رنګین سفر مزل ادبیات دي.
په دې تورو لیکو کې به تاسې د ژوند د رنګین سفر مخونه وګورئ، چېرته وو؟ څنګه وو؟ له کومه راغلو؟ چېرته ځو؟ څه مو کړي؟ څه په کار وو؟ څه په کار دي؟ څه وشو؟ څه به وشي؟ دا ولې رامنځته شول؟ دا ادبیات ولې ولیکل شول؟ دا کلمې، مفاهیم او غږونه ولې سره یو ځای شول؟ دا هغه پوښتنې او ذهني لارې دي چې د ژوند دغه رنګین سفر یې رانښيي، د دغه سفر فلسفه رانښيي.
د کایناتو له لیده، تر درک، ادراک، دماغ او مغزو تر تجربې، لوبې او څرګندولو پورې یو رنګین سفر دی. له بهرني لیده اوبه څښې او په کورني یا دنننې لید کې خپل تصویر جوړوي او بېرته یې په رنګ کې وړاندې کوي. له خاورو رابېلېږي، په خاورو کې زرغونېږي او بېرته له خاورو سره یو ځای کېږي. دغه ژوند راته ادبیات رانښيي او همدا ادبیات دي. د ژوند او ښکلا روح دی. د ژوند کالبوت ته ساه او حرکت ورکوي.
اوس؛ نو د ژوند دغه رنګیني د سترګو له بېلابېلو زاویو ګورو، بېلابېل رنګونه راته پکې ښکاري، هر رنګ یې راسره بېلې، بېلې خبرې او غورې لري، بیا له امتزاجه بل څه وایي. دا خبرې پایښت نه لري، دا خبرې نه زړېږي او نه له رنګه لوېږي. دا خبرې نوې ساه اخلي، په نوې جامه او نوي رنګ کې ځان سینګاروي؛ خو جوهر او ستڼه یې په خاورو کې ده.
دلته غواړو چې د ژوند دغه رنګیني راوسپړو، سپړنه یې خبرې غواړي او خبرې اباسین دی، ځان د رنګونو په اباسین ورګډوو.
## د موضوع ارزښت
د دې سکالو ارزښت په دې کې دی چې موږ ته د ژوند د رنګینو پر راز او د رنګونو پر کیفیت غږېږي. د رنګونو پر کیفیت او راز خبرې، خبرې غواړي او خبرې له خبرو پیدا کېږي. خبرې سپینول او د خبرو د رنګونو نندارہ عمر غواړي. دا بحثونه د بشر له پیدایښته رانیولې، تر دا شېبې او همداسې پسې دا لاره غځېږي او اوږدېږي. څوک د دې رنګینې لارې په مزله تر یوه ځایه او څوک تر بل ځایه رسي؛ خو څوک تر عمره د عیسی رسېږي نه.
د ادب فلسفه له لومړني ژوند او غږه رانیولې همداسې تر هغه مهاله چې د بشر ذهن کار کوي او د طبیعت په غېږ کې د رنګونو شور وي، دا خبرې به روانې وي. د ادب فلسفه په ټوله کې د کاینانو د خبرو رنګیني رانښيي او ژوند رانښيي. د ژوند د دغه رنګین سفر بیان

د ادب فلسفې په خبرو کې پروت دی.

د دې لپاره چې د ادب پر روح و پوهېږو، د ادب له روحه خوند واخلو؛ نو فلسفه راته غړېږي. د ادب فلسفه راته وايي چې ولې دا کلمې، غږونه او مفاهیم رامنځته شول؟ ولې دا انځورونه جوړ شول؟ ولې خلکو له ادب او ادبیاتو خوند اخیسته او لا يې اخلي؟

د ادب روح ښکلا ده. هغه پارونه او اغېز ښندنه ده چې ذهن او زړه په منظم حرکت راولي؛ نو ترهر څه وړاندې اړینه ده چې د ادب پر اغېز، روح او له نورو پوهنو، فنونو او هنرونو يې سره پر اړیکه پوه شو. د ادب فلسفه پخپله په ادب کې خبرې دي یا په ادبي اثر کې د اغېز ښندنې او ښکلا رابرسېره کول دي. موږ تر دا مهاله د ادب پر روح ډېر لږ غږېدلي یو، لامل يې دا دی چې د ادب فلسفه مو هېره کړې وه.

## د موضوع پوښتنې

د هرې موضوع سپړنه او شننه ځانته خپلې پوښتنې لري، همدا پوښتنې د موضوع ارزښت، روح او روان راښيي.

### اصلي پوښتنې:

۱ـ د ادب فلسفه یعنې څه؟

۲ـ ارزښت يې په څه کې دی؟

۳ـ پر ژوند څه اغېز لري؟

۴ـ نوي څه راښيي؟

### فرعي پوښتنې:

۱ـ که د ادب فلسفه نه وي، څه کمی به رامنځته شي؟

۲ـ د ادب فلسفه او تیوري سره څه توپیر لري؟

۳ـ ادب فلسفې نه زموږ موخه څه ده؟

۴ـ په پښتو ادب کې کوم فلسفي روح نغښتی دی؟

۵-ادب فلسفه به د پښتو ادب کومې نوې خواوې او ځانگړنې راوپېژني؟

٦- د پښتو ادب روح څنگه پېژندل کېږي، په دې کې د فلسفې ونډه څه ده؟

## د موضوع ستونزې

دا سکالو یا موضوع خورا په زړه پورې ده؛ خو لویه ستونزه پکې دا ده چې له تیورۍ سره

يې توپير نه دی شوی. بله ستونزه يې دا ده چې د ادب فلسفې په نوم چې څومره بهرني ماخذونه دي، هلته هم زيات تاکيد پر فورمونو شوی دی، فورمونه راپېژندل شوي دي. د ادب پر روح لږ بحث شوی دی. په پښتو ادبياتو کې هم پر شکلي خوا په تېره د فورمونو پر جوړښت بحث شوی؛ خو د ادب پر روح بحث ډېر لږ دی.

د ادب د فلسفې نوم چې کله اخيستل کېږي؛ نو ذهن ته تيوري راځي، دا ولې؟ دا ځکه چې تيوريکي بحثونو له هر څه غېږ چاپېره کړې ده. تيوري همداسې تعريف شوې هم ده چې د ادبياتو ارزښت، ماهيت، جوړښت او کيفيت راښيي؛ نو د ماهيت خبره چې فلسفي روح لري، هغه هم په تيورۍ کې ورګډه شوې ده. اوس ستونزه دا ده چې دا خبره ټولمنلې ده، د ټولمنلې خبرې يا ناسمه مشهورتيا د موضوع د سپيناوي په برخه کې ستونزې راولاړوي.

د ادب فلسفې موضوع په نورو علومو، فنونو او هنرونو کې هم ورګډه شوې ده، توپير شوی نه ده؛ نو ستونزه دا هم ده چې څنګه د ادب فلسفې موضوع له نورو رابېله کړو.

په دې برخه کې داسې ماخذونه چې هغه دې يوازې او يوازې د ادب پر فلسفه وغږېږي، په پښتو کې زما تر سترګو نه شول، په نورو ژبو لکه انګرېزي کې لوی سرليک همدا د ادب فلسفې دی؛ خو په منځ کې يې بيا د ادب پر فلسفي بحث سربېره نور موضوعات هم راغلي دي، له لوستونکي لاره ورکوي.

## د موضوع ميتود

د دې کتاب په ليکلو کې له تحليلي او تشريحي مېتود څخه کار اخيستل شوی دی. بڼه يې کتابتوني ده.

## د موضوع تاريخي شاليد

د ادب فلسفي بحث له افلاطونه راپيلېږي، افلاطون څنګزن بحث کړی دی؛ خو ارسطو بيا د ادب د فلسفې منظم بحثونه لري، د شعر فن يا پوتيکا او يا بوطيقا يې هغه اثر دی چې د ادب د فلسفې بحثونه پکې شته.

په پښتو کې داسې کوم ځانګړی کتاب يا ليکنه چې د ادبفلسفې په اړه وي، زما تر سترګو نه شو، يوازې په ځينو کتابونو او خپرونو کې د ادب د کيفيت او روح په باب خورې ورې ليکنې شوې دي.

هغه کتابونه چې د تيورۍ تر څنګ د ادب روح راپېژني، هغه دا دي:

## ۱ـ ادبي بحثونه

ادبي بحثونه د اروانباد ګل پاچا الفت اثر دی چې په ۱۳۲۴ ل کال د پښتو ټولنې له خوا په کوچنۍ کچه په ۱۳۲ مخونو کې خپور شوی او پر همدې کال یې د خوشال خان ادبي جایزه ګټلې ده.

دغه کتاب د ادبیاتو په باب یو تیوریکي کتاب دی چې د ادب لغوي او اصطلاحي پېژندنه، د شعر په باب نظرونه، په ژوند کې د شعر ارزښت او اغېز او دې ته ورته یو شمېر داسې بحثونه لري . په دې کتاب کې ځینې بحثونه د ادب فلسفې پورې تړاو لري؛ لکه پخپله د ادب کلمه داسې څرګنده شوې چې پر لغوي مانا سربېره یې د ادب ماهیت او ارزښت راپېژندلی دی، همدارنګه یې د طبیعي او مصنوعي ادب بېلګې هم شنلې دي. د ادب فلسفې ته لومړنی کار دی.

## ۲ـ شعر او ادب

د شعر پېژندنې په باب دغه تیوریکي کتاب چې دبېلابېلو لیکوالو لیکنې په کې خوندي دي، شعر راپېژني. د لیکنو دغه ټولګه د استاد عبدالله بختاني خدمتګار له خوا راټوله شوې او پر ۱۳۳۳ ل کال خپره شوې ده. دغه کتاب پنځه برخې لري.

د کتاب منځپانګه د شعر د کیفیت په باب د بېلابېلو شعرپېژندونکیو شاعرانو نظرونه دي. دوی د شعر په باب خپل تحلیلونه وړاندې کړي دي، د شعر پېژندنې د تیورۍ په برخه کې د دوی نظرونه ښه ماخذ کېدای شي.

د دغو بحثونو یو څه برخه په دې کتاب کې خپره شوې نه ده. په دې کتاب کې د شعر په باب بحثونه د هغې زمانې د لیکوال د نظر زاویه او لید ښیي. په دې کتاب کې یو شمېر داسې لیکنې را نغاړل شوې دي چې هغه د ادب ماهیت او روح راښیي. زیاتره بحثونه د هغه مهال له تیورۍ سره برابر پر منظوم شعر شوي دي.

## ۳ـ د ادب د تیورۍ اساسونه

دغه کتاب د سرمحقق دوست شینواري د ادبیاتو په باب یو تیوریکي اثر دی چې پر ۱۳۶۵ ل کال د چاپ او خپرونو دولتي کمېټې له خوا په ۳۷۵ مخونو کې په منځنۍ کچه خپور شوی دی. په دې کتاب کې د ادب په باب نظرونه څېړل شوي دي، یو شمېر بحثونه یې د ادب روح او ماهیت راښیي. دغه برخه یې د ادبفلسفې برخه ده، یو شمېر یې بیا د

ادب‌تیوري له مخې لفظي اومعنوي ژانرونه راښيي. د ادب‌فلسفې په برخه کې دغه کتاب ارزښمن او معتبر ماخذ دی.

**۴ـ د ادب مطالعه**

دغه کتاب مشهور اردو ژبي ليکوال اطهر پرويز ليکلی دی. عبدالرحيم ځدران پښتو ته راژباړلی او پر ۱۳۶۵ ل کال د غني او اجمل د زوکړو د کاليزو د سيمينار په وياړ د قومونو او قبايلو چارو وزارت د خپرونو رياست په گستتنر بڼه خپور کړی دی. ټول ټال ۱۳۴ مخونه لري.

په دې کتاب کې پر نورو موضوعگانو سربېره د شعر او ادب په باب ځانگړي بحثونه شوي دي. د دغو بحثونو ځينې برخې له ادب‌فلسفې سره اړيکه لري.

**۵ـ شعرپېژندنه**

دغه کتاب کانديد اکاډميسين محمدصديق روهي ليکلی دی. په دې کتاب کې دشعر پر ارزښت او اهميت تيوريکي او فلسفي بحثونه شوي دي. د شعر د ښکلاييز اړخونو او په ټوله کې شعرپېژندنې په برخه کې لوړ ماخذ دی. دا کتاب د ښکلا په باب د فلسفي نظرونو په رڼا کې شعر راپېژني. همدغه بحثونه يې د ادب په فلسفې پورې تړاو لري.

**٦ـ پښتو بدلمېچ يا پښتو شعر څنگه جوړېږي؟**

دغه کتاب پوهاند ډاکتر مجاوراحمد زيار ليکلی دی او پر۱۹۹۰/۱۳۸۹ کال د دانش خپرندويې ټولنې له خوا خپور شوی دی. د دې کتاب غوښنه برخه د نظم پر عروضي جوړښتونو بحث ته ځانگړې شوې ده؛ خو د دې تر څنگ د شعر د ښکلا بحثونه هم لري. دلته هم د پخوانۍ تيورۍ له مخې پر منظوم شعر بحث شوی دی.

**۷ـ منظوم انځورونه**

دا ددې کرښو د ليکوال (ازمون) هغه کتاب دی چې پر ۲۰۱۰/۱۳۸۹ کال ختيزې سيمې ليکوالو او ژورنالېستانو خپلواکې ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې دانځورونو پر راپېژندنې سربېره په لومړي څپرکي کې د پښتو نظم پر پېژندنې او ډولونو خبرې شوې دي. په دې کتاب کې د پښتو نظم پر ښکلا بحث شوی دی. دغه ښکلاييز بحث د ادب فلسفې پورې تړاو لري.

### ۸ ـ د لونګو دریځې

د لونګو دریځې د صدیق الله بدر هغه تالیف دی چې د پښتو نظم او شعر په باب یې د بېلابېلو څېړونکیو نظرونه رااخیستي دي. په دې کتاب کې پر نورو بحثونو سربېره د نظم او نثر په بېلابېلو ښکلاییز اړخونو بحثونه شوي دي. دغه بحثونه د ادب پر ارزښت او روح بحثونه دي. دغه بحثونه د ادب په فلسفې پورې تړاو لري.

دغه کتاب پر ۱۳۸۷ د ختیزې سیمې لیکوالو او ژورنالېستانو خپلواکې ټولنې له خوا خپور شو.

### ۹ ـ جادوګر هنر

دغه کتاب اسدالله غضنفر لیکلی دی، پر ۱۳۹۳ ل کال د مومند خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی، په دې کتاب کې هغه خورې ورې لیکنې چې زیاتره د ادبیاتو په باب دي، راټولې شوې دي. په کتاب کې زیاتره هغه لیکنې دي چې د ادبیاتو بېلابېلو خواوو په باب د لیکوال خپل لید څرګندوي. د ادبیاتو پر روح غږېږي، ښودنې نه کوي، بلکې د ادبي لیکنو کیفیت او ارزښت راسپړي.

### ۱۰ـ څراغ

دغه کتاب د اسدالله غضنفر د بېلابېلو لیکنو ټولګه ده چې پر ۱۳۹٦ ل کال د مومند خپرندویه ټولنې له خوا چاپ شوه.

په دې کتاب کې پر نورو لیکنو سربېره د ادب سپړنې او ماهیت څرګندولو په اړه یو لړ لیکنې شوې دي، په دغو لیکنو کې د ادب‌تیورۍ تر څنګ د ادب فلسفي بحثونه په عملي بېلګو کې وړاندې شوي دي.

### ۱۱ ـ شعرستان

شعرستان د شعر د ارزښت او کیفیت په باب یو څېړنیز اثر دی. دغه اثر ډاکتر احسان الله درمل لیکلی. پر کال ۱۳۹۵ د بېنوا فرهنګي ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې یوازې پر منظوم شعر بحث شوی دی. د منظوم شعر ښکلاییز اړخونه څېړل شوي دي. دا کتاب تیوریکي او څېړنیز دی. منځ، منځ کې یې ځینې بحثونه د ادب په فلسفې پورې هم تړاو لري. په هغو ځایونو کې چې دی پر ښکلا غږېږي او د شعر روح راسپړي، تر یو ځایه فلسفي رنګ لري.

## ۱۲ـ ادبستان

دا د پوهندوی ډاکتر اجمل ښکلي په قلم لیکل شوی دی. دا کتاب پر ۱۳۹٦ ل کال کلایسک خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې هغه خورې ورې لیکنې چې ادب او ژبې پورې تړاو لري، راټولې شوې دي. په دې کتاب کې د ادب په باب پر تیوریکي لیکنو سربېره یو شمېر داسې لیکنې هم راغلي چې هغه د لیکوال او نورو له نظره د ادب په ځینو معنوي او لفظي ژانرونو کې د ادب روح او ارزښت څرګندوي چې د ادب فلسفي بحثونه یې ګڼلی شو.

## ۱۳ـ ادب تیوري

دا د پوهاند ډاکتر لعل پاچا ازمون تدریسي کتاب دی چې پر ۱۳۹۷ ل کال د ختیځ خپرندویه ټولنې له خوا خپور شوی دی. په دې کتاب کې زیاتره بحثونه د ادب‌تیورۍ دي خو ځینې داسې برخې هم پکې شته چې د ادب فلسفه راښیي.

## ۱۴ـ ادبي تیوري

دا کتاب پوهاند جمشید رشیدي لیکلی دی، په دې کتاب کې زیاتره بحثونه د ادب‌تیورۍ دي. دغه کتاب پر ۱۳۹٦ ل کال په کابل کې خپور شوی دی. دا هم یو تدریسي کتاب دی. د ادبیاتو د تیورۍ پېژندنې په برخه کې یو ماخذ دی.